# د صُفَّه والؤ فضائل

**07-August-2025**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 7 اګست، کال 2025ء (بمطابق: 12 صَفَر شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د صُفَّه والؤ فضائل

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا برکت
- د اَصحابِ صُفَّه قدر او عزت
- پهٔ يوه نمړۍ باندې موړ شو
- مننه چې پهٔ ما باندې مو بيان وکړو

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د خوږ مصطفے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:**

كُلُّ كَلَامٍ لَا يُذۡكَرُ اللهُ تَعَالٰى فِيۡهِ فَيُبۡدَاُ بِهٖ وَبِالصَّلَاةِ عَلَيَّ فَهُوَ مَمۡحُوقٌ مِنۡ كُلِّ بَرَكَةٍ

**ترجمه:** هره هٔغه خبره کومه چې د **الله** پاک د ذِکر او پهٔ ما باندې د درود لیږلو نه بغیر شروع شي هغه د هر برکت نه محرومه او خالي ده۔ (1)

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | محبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر ، درود پڑھو
جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیشتر، درود پڑھو
نبی کے صدقے تمہاری مراد ہو حاصل | دُعا کے اوّل و آخر اگر درود پڑھو
ہزار درد کو یہ اِک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر، درود پڑھو (2)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]… القول البديع، صفحه:244۔

[2]… نورِ ایمان، صفحه:56-57 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښینم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا برکت

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: یو ځل د روژې مبارکه میاشت وه، اَصحابِ صُفَّه (یعني د خپل کور کلي پریښودونکو او د عِلمِ دِین زده کولو او ښودلو د پاره پۀ مسجدِ نبوي شریف کښې د قیام کوونکو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم) معمول مبارک دا وو چې روزانه به یـې روژه نیوله، د روژه ماتي پۀ وخت به چا مالداره صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مونږ خپل کور ته بوتلو او د ثواب ګټلو د پاره به یـې پۀ مونږ باندې روژه ماتے کولو۔

❁ یو ځل داسې وشو چې څوک زمونږ د بوتللو د پاره رانغلل، مونږه داسې بغیر د خوراک څښاک نه شپه تیره کړه ❁ بله ورځ مو بیا د روژې نیت وکړو، پۀ دې شپه هم څوک رانغلل، مونږه دا شپه هم پۀ نهره تیره کړه ❁ دریمه شپه هم داسې وشو، مونږه درې ورځې پرله پسې روژې بغیر د څۀ خوراک څښاک کولو نه نیولې وې، سخت وږي وو،پۀ وجود کښې مو نور طاقت هم نۀ وو پاتې۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ادا نوټ کړئ! درې

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

ورځې لوږه، پرله پسې روژې، خوراک نۀ راځي، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم پۀ دې سخت وخت کښې څۀ وکړل---؟؟ اعلىٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي:

وہی ربّ ہے جس نے تجھ کو ہمہ تن کرم بنایا | ہمیں بھیک مانگنے کو تِرا آستاں بتایا
تجھے حمد ہے خدایا(1)

سُبۡحٰنَ اللہ! چا عاشقِ رسول څۀ داسې وئيلي دي:

کسی کا اِحسان کیوں اُٹھائیں، کسی کو حالات کیوں بتائیں
تمہیں سے مانگیں گے، تم ہی دو گے، تمہارے در سے ہی لو لگی ہے

خير! اصحابِ صُفَّه درې روژې ونيولې، د روژه ماتې پۀ وخت خوراک ميلاؤ نۀ شو، پرله پسې د دريو ورځو لوږه ده، ډير بے حاله شوي وو، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم څۀ وکړل--؟ د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضر شو، ټوله واقعه يـې ورته بيان کړه-

ربّ کے پیارے، راج دُلارے | ہم ہیں تمہارے، تم ہو ہمارے
اے دامان رحمت والے | تم پر لاکھوں سلام
تم پر لاکھوں سلام(2)

خوږ نبي، ښۀ نبي، رښتوني نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورومبے خو پاکو بيبيانو ته پيغام وليږلو، اوئې فرمائيل: که پۀ کور کښې د خوراک د پاره څۀ وي نو را وه يـې ليږئ- جواب راغلو، **څۀ چې وو پۀ غريبانانو مو تقسيم کړي دي، اوس پۀ کور کښې هيڅ هم نشته-** الله! الله!

نعمتیں تم اَوروں کو کھلاؤ | خود کھاؤ تو جو کی کھاؤ

---

1...حدائق بخشش، صفحہ:363۔
2...سامانِ بخشش، صفحہ:90۔

| | |
|---|---|
| نانِ جَوِیں پر قناعت والے | تم پر لاکھوں سلام |

تم پر لاکھوں سلام

| | |
|---|---|
| دولت دو عالم کو بانٹو | اپنے پیٹ پہ پتھر باندھو |
| اللہ! اللہ! سخاوت والے | تم پر لاکھوں سلام |

تم پر لاکھوں سلام (1)

پهٔ کور کښې دغه وخت هيڅ هم نهٔ وو---!!

اور نا کہنا نہیں عادت رسولُ اللہ کی

محبوبِ ذِيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اصحابِ صُفَّه ته وفرمائيل: ټول يو ځائے ته راجمع شئ! اَصحابِ صُفَّه راجمع شول- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسۡئَلُكَ مِنۡ فَضۡلِكَ وَ رَحۡمَتِكَ

يعني اے **اللہ** پاکه! مونږه ستا نه ستا د فضل او د رحمت سوال کوو-

راوي وائي چې لا خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا ختمه کړې هم نهٔ وه چې د دې نه مخکښې يو صاحب وريته کړے شوې چيلۍ او ډوډۍ حاضرې کړې، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوراک زمونږ مخې ته کېښودو او مونږ ښه پهٔ مړه خېټه ډوډۍ وخوړله-(2)

| | |
|---|---|
| کیوں بھٹکتے پھریں سرکار کے بندے دَر دَر؟ | بگڑیاں سب کی وہ اِک پل میں بنا جانتے ہیں |
| حق نے تم کو دیا تم بانٹتے ہو عالم میں | جو مِلا جس کو، تمہارا ہی دیا جانتے ہیں |
| میرے داتا! مرے مولیٰ! مجھے ٹکڑا مل جائے | بے نوا اِس کے سوا اور نہ صدا جانتے ہیں |

---

1...سامانِ بخشش، صفحہ:92۔

2...حلیۃ الاولیا، جلد:2، صفحہ:28، رقم:1396 ملخصاً۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے زمونږ د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم--!! د الله پاک د هغوئي رضا دومره خوښه ده چې دلته لا پۀ شونډو مبارکو باندې خبره راغلې نۀ وي، هلته پوره کړے شوې هم وي، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

اِجابت نے جُھک کر گلے سے لگایا | بڑھی ناز سے جب دُعائے مُحَمَّد
اِجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا | دُلہن بن کے نِکلی دُعائے مُحَمَّد (1)

وضاحت: يعني د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا چې کله پۀ عزت او شان سره وړاندې لاړه نو قبوليت راښکته شو او ور غاړه وتو، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا خو لکه چې ناوې جوړېږي او ووځي کومې چې د الله پاک د عطاګانو جوړه اغوستې ده او د قبوليت سهره يې پۀ سر تړلې ده-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَصحابِ صُفَّه تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! صُفَّه پۀ مسجدِ نبوي شريف کښې د يو ځائے نوم دے، هٔغه صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم کوم چې به پۀ دغه ځائے کښې اوسيدل، هغوئي ته اَصحابِ صُفَّه وئيلے کيږي-(2) حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پخپله هم پۀ اَصحابِ صُفَّه کښې شامل دے، فرمائي: اَهْلُ الصُّفَّةِ اَضْيَافُ الْاِسْلَامِ يعني اَصحابِ صُفَّه د اِسلام ميلمانۀ دي-(3)

هٔغه صحابۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د کومو چې خپل څۀ کور نۀ وو، يا کوم چې به د لرې لرې علاقو نه د عِلمِ دِين د زده کولو د پاره مدينے منورې ته حاضريدل، پۀ مدينه منوره

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ: 66۔
2...لسان العرب، جلد: 9، صفحہ: 195 بتقدم وتاخر۔
3...بخاری، کتاب الرقاق، باب کیف کان عیش النبی...الخ، صفحہ: 1588، حدیث: 6452۔

کښې د هغوئي سره د اوسيدو څهٔ ځائے نهٔ وو، هغوئي به پهٔ **مقامِ صُفَّه** کښې قيام کولو،[1] د دُنيا د خوندونو نه لرې، د نفس د خواهشاتو نه پاک به شپه ورځ دلته اوسيدل، عبادت به يې کولو، عِلمِ دِين به يې زده کولو، ښودلو او د دِين پهٔ خدمت کښې به مصروف اوسيدل۔

سُبْحٰنَ الله! د **اَصحابِ صُفَّه** څومره ځانګړے نصيب وو، دوئي ډير خوش قِسمته دي، کومو چې د سخيانو د سخي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مبارک دَر باندې مستقل بستره غوړولې وه۔ مَدَّاحِ حبيب حضرت جميل رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

دَرِ اَقْدَس پہ تمہارے کو پڑے رہتے ہیں | بڑھ کے جنّت سے مدینے کی فضا جانتے ہیں
اپنی ہستی کو جو تِرے در پہ مٹا جانتے ہیں | کچھ وہی لُطف فَنَا اور بَقَا جانتے ہیں (2)

## د اَصحابِ صُفَّه شان

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ لَا تَطْرُدِ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ (پارہ:7، سورۂ انعام:52)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هُغه خلق مهٔ جُدا کوهٔ کوم چې سحر او ماښام د خپل رَبّ د رضا غوښتلو د پاره هغه يادوي۔

حضرت شيخ سيّد علي هجويري داتا صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا آيت مبارک د **اَصحابِ صُفَّه** پهٔ شان کښې نازل شو۔[3]

پهٔ روايت کښې دي: يو ځل غير مسلمو وليدل چې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګير چاپيره غريبانان صحابهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حاضر دي، غير مسلمو ووئيل: مونږ له د دې

---

1...حلیۃ الاولیا، جلد:1، صفحہ:415، رقم:1197 مفہوماً۔
2...قبالۂ بخشش، صفحہ:202-203 ملتقطاً بتقدم وتاخر۔
3...کَشْفُ الْمَحْجُوب، باب الثانی فی الفقر، صفحہ:24۔

غريبانانو سره پهٔ کيناستو کښې شرم راځي، که دوئي د دې ځائے نه پاځولے شي نو مونږ به کلمه ووايو- د غريبانانو آقا، د بے وسو داتا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې غوښتنې نه صفا اِنکار وکړو- پهٔ دې باندې دا آيت مبارک نازل شو، فرمائي: اے محبوبه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هُغه خوش قِسمته، نيک زړهٔ والا مسلمانان کوم چې سحر او ماښام د **الله** پاک نه سوال کوي، عبادت کوي، صرف او صرف د **الله** پاک د رضا طلب ګار اوسي، هغوئي د خپل ځان نه مهٔ جُدا کوئ-(1)

جو تِرا ہو گیا خُدا کا ہوا | جو خُدا کا ہوا، ہوا تیرا
حوصلے کیوں کیوں گھٹیں غریبوں کے | ہے اِرادہ بڑھا ہوا تیرا (2)

## د اَصحابِ صُفَّه قدر او عزت

د دې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم پهٔ باره کښې **الله** پاک نور اِرشاد فرمائي:

وَ اِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ (پارہ:7، سورۂ انعام:54)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او چې کله ستا پهٔ دربار کښې هُغه خلق حاضر شي کوم چې زمونږ پهٔ آيتونو ايمان راوړي نو هغوئي ته وفرمايهٔ: "پهٔ تاسو دې سلام وي" ستاسو رَبّ پهٔ خپله ذِمهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے-

يعني اے محبوبه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا پاک خلق کومو چې زمونږ پهٔ آيتونو باندې ايمان راوړو، چې کله دوئي ستا پهٔ خدمت کښې حاضر شي نو ❀ تاسو د دوئي قدر او عزت کوئ! ❀ د دوئي سره پهٔ سلام کښې پهل [يعني وړومبے والے] کوئ! ❀ او دوئي له دا زيرے ورکړئ

1...ابن ماجہ، کتاب الزہد، باب مجالسۃ الفقراء، صفحہ:671، حدیث:4127 ملخصاً۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:69۔

چې **اللّٰه** پاک فضل کړے دے او پۀ خپله ذِمَّۀ کرم باندې يې رحم لازم کړے دے-[1]

حضرت خباب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د دې آيتِ مبارک د نازليدو نه پس به خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته دومره زيات د نزدې کيدو شرف راکولو چې زمونږه زنګونان به د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زنګونانو مبارکو سره لګيدل-[2]

جب تک بکے نہ تھے ، کوئی پوچھتا نہ تھا | آپ نے خرید کر ہمیں انمول کر دیا

## ستاسو چې پۀ چا مينه راشي

پۀ يو ځائے کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اصۡبِرۡ نَفۡسَکَ مَعَ الَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ رَبَّہُمۡ بِالۡغَدٰوۃِ وَ الۡعَشِیِّ یُرِیۡدُوۡنَ وَجۡہَہٗ وَ لَا تَعۡدُ عَیۡنٰکَ عَنۡہُمۡ ۚ (پارہ:15، سورۂ کہف:28) | **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** او خپل ځان هُغه خلقو سره عادت ساته کوم چې سحر او ماښام خپل رَبّ يادوي د هغۀ رضا غوښتلو د پاره او ستا سترګې دې د دُنياوي ژوند ښائست غوښتلو د پاره د دوئي نه سِوا پۀ نورو پرې نۀ وځي- |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا آيت مبارک هم د اَصحابِ صُفَّه پۀ شان کښې نازل شوے،[3] دلته **اللّٰه** پاک خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دوه حکمونه اِرشاد کړل:

**(1):** وَاصۡبِرۡ نَفۡسَکَ يعنې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ځان د اَصحابِ صُفَّه والؤ سره عادت ساتۍ!

**(2):** وَلَا تَعۡدُ عَیۡنٰکَ عَنۡہُمۡ ۚ يعنې خپل مقدس مبارک نظر د دوئي نه مۀ لرې کوئ!

---

1...تفسیر صراط الجنان، پارہ:7، سورۂ انعام، زیر آیت:54، جلد:3، صفحہ:118۔
2...ابن ماجہ، کتاب الزہد، باب مجالسۃ الفقراء، صفحہ:671، حدیث:4127 ملخصاً۔
3...ابن ماجہ، کتاب الزہد، باب مجالسۃ الفقراء، صفحہ:671، حدیث:4127 مختصراً۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اَصحابِ صُفَّه د قِسمت نه قربان شم---!! ثومره ښکلے نصیب یـې دے- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکلي دي:

جس طرف اُٹھ گئی، دم میں دم آگیا | اس نگاه عنایت پہ لاکھوں سلام( 1 )

وضاحت: يعنې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک نظر دا کمال دے چې په مړو زړونو باندې پريوځي نو ژوندي کيږي، د نُورانيت نه پړقيږي- په داسې مبارک نظر دې په لکونو سلامونه وي-

دا د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال دے، کوم طرف ته چې وګوري، مړي راژوندي کوي، قِسمتونه بدلوي- مونږ ارمان کوو چې کاش هغه ژوند ورکوونکے نظر مو د يو ساعت د پاره نصيب شي نو نسلونه به مو ښهٔ شي، د دواړو جهانو کاميابي به مو نصيب شي، دلته د اَصحابِ صُفَّه نصيب ته وګورئ، رَبِّ کائنات فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د دوئي نه نظر مهٔ اړوئ! يعنې په دوئي باندې خپل نظر ساتئ!

کاش! چې د اَصحابِ صُفَّه په وسيله په مونږ باندې هم کرم وشي---!!

خوشا قسمت وه دم بھر کو جو نظر زندگی بخشیں
یہ عالم زندگی کا زندگی بھر ہو تو کیا کہنا

**خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مو نصيب شو نو نور څهٔ پکار دي!**

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې هم غور وکړئ چې رَبِّ کريم فرمائي:

وَاصۡبِرۡ نَفۡسَكَ يعنې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ځان د اَصحابِ صُفَّه سره عادت ساتئ!

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:300-

پۀ روايت کښې دي: د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معمول مبارک دا وو چې د اَصحابِ صُفَّه سره به تشريف فرما وو، که څۀ کار به وو نو کور ته به يـې تشريف وړلو، چې کله دا آيت نازل شو نو د دې نه پس يـې معمول مبارک دا شو چې تر څو پورې به اَصحابِ صُفَّه پۀ خدمت کښې حاضر وو نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هم تشريف فرما وو، چې کله به هغوئي پاڅيدل نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بيا چرته تشريف وړلو، تر دې پورې چې هغوئي به د خپل څۀ ضرورت د پاره هم تشريف نۀ وړلو-[1]

| | |
|---|---|
| تم عرش کے تاجدار مولی | تم فرش کے باوَقار آقا |
| اس شان کے ہم نے کیا کسی نے | دیکھے نہیں زِینہار آقا |
| سرکار کے تاجدار بندے | سرکار ہیں تاجدار آقا |

**وضاحت**: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د عرش تاجدار او په زمکه باندې د عزتونو والا يئ- څنګه چې ستاسو شان دے داسې نه مونږه څوک ليدلے نه بل چا ليدلے، بلکې ستاسو په شان بل هيڅوک نشته، لکه څنګه چې تاسو صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک محبوب او د هغۀ د خدائي تاجدار يئ، ستاسو په عطا ستاسو غلامان هم تاجداران دي، د عزتونو والا دي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَصحابِ صُفَّه د عبادت سره شوق

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه دوه آيتونه مبارک واوريدل، پۀ دې دواړو آيتونو کښې اِرشاد وشو:

[1] ...ابن ماجه، كتاب الزهد، باب مجالسة الفقراء، صفحه: 671-672، حديث: 4127-

| | |
|---|---|
| يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَ الۡعَشِيِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ (پاره:15، سورهٔ کهف:28) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: سحر او ماښام خپل رَبّ یادوي د هغه رضا غوښتلو د پاره- |

د اَصحابِ صُفَّه د عبادت سره شوق ته وګورئ! خومره د کمال به وو، رَبِّ کریم ګواهي ورکوي چې اَصحابِ صُفَّه عبادت ګزار دي، سحر او ماښام عبادت کوي او عبادت هم څنګه---؟ د ریا والا نهٔ؟ بل ته د ښودلو والا نهٔ بلکې یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ یعنې اَصحابِ صُفَّه ډیر پهٔ اِخلاص سره صرف او صرف د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره عبادت کوي-

سُبْحٰنَ الله! کاش چې زمونږه د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د غلامانو هم د عبادت او ریاضت توفیق نصیب شي- مونږ د خپلې ورځې شپې، د سحر او د ماښام جائزه واخلو، آیا مونږ هم عبادت کوو---؟ آه! زمونږه شپې ورځې خو پهٔ فضولیاتو کښې تیریږي، که ظاهري نعمتونو ته وکتلے شي نو اَصحابِ صُفَّه د دُنیا نه بے نیازه وو، د زُهد والا وو، مونږه واوریدل چې بعضې وخت خو به تر دریو دریو ورځو پورې یوه نمرۍ ډوډۍ د هغوئي خېټو ته نهٔ تلله، د وجود د پټولو د پاره به ورسره صرف د سَتر د پټولو جامې وې، د دې باوجود به دې حضراتو شپې ورځې پهٔ عبادتونو کښې تیرولې، بل طرف ته زمونږ حال ته وګورئ! د یو بل نه خوندور خوراکونه مونږ کوو، د شپې پهٔ مړه خېټه اودهٔ کیږو، سحر چې راپاڅو نو بیا خوراک کوو، جامې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! بهترینې اغوندو خو افسوس چې د عبادت نه ډډه کوو- ❁ پهٔ کثرت سره تِلاوت کول ❁ پهٔ ناسته پهٔ ولاړه د **اللّٰه** پاک ذِکر کول ❁ د درودِ پاک کثرت کول ❁ تهوله شپه نفلونه کول، دا خو غټه خبره ده، اکثریت د داسې خلقو دے کوم چې پینځه وخته نـمونځونه هم پوره نهٔ ادا کوي، کله دوه وکړي، کله څلور وکړي، کله د سحر نـمونځ قضا کړي، کله د ماسخوتن پهٔ نـمونځ کښې سستي کوي، دا هم د هغه خلقو حال دے کوم چې د دِین طرف ته رغبت لري، ګني نو پهٔ لکونو خلق خو داسې دي کوم

چې جومات ته هم نهٔ راځي، نـمونځ هډو کوي نهٔ-

کاش چې د اَصحابِ صُفَّه فیضان زمونږه نصیب شي، کاش چې مونږه هم سحر او ماښام، شپه او ورځ، الله الله کولو والا، ذِکر او درود لوستلو والا، نیک عبادت ګزاره جوړ شو-

گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی | بُری عادتیں بھی چھڑا یاالٰہی
خطاؤں کو میری مِٹا یاالٰہی | مجھے نیک خصلت بنا یاالٰہی (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَصحابِ صُفَّه د ژوند تیرولو انداز

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَصحابِ صُفَّه هٰغه خوش قِسمته صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم دي، کومو چې پهٔ زړګونو سختیې برداشت کړې، د دې باوجود پهٔ عِلمِ دِین زده کولو، ښودلو او د دِین پهٔ خِدمت کښې مصروف وو- ❁ د دې حضراتو سره د اوسیدو د پاره خپل کورونه نهٔ وو ❁ جامې ورسره صرف دومره وې پهٔ کومو باندې چې به هیله سَتر پټیدے شو ❁ څو څو ورځې به یـې پهٔ نهره تیرولې ❁ بعضې وخت خو به داسې حالت شو چې د لوږې پهٔ وجه به ورته ګرځیدل ګران شو، بعضې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم به بے هوشه کیدل او راپریوتل به-

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ کوم چې د اَصحابِ صُفَّه نه دے، هغوئي به خپل شاګردانو ته خپلې واقعې بیانولې، یوه ورځ یـې وفرمائیل: زمونږ د اَصحابِ صُفَّه سره به زړې څادرې وې، پهٔ هغې به مو بدن پټولو، د دې نه علاوه به راسره د اغوستو د پاره جامې نهٔ وې، د ملا سیدها کولو پهٔ مِقدار (یعني پهٔ یو څو نمړو) خوړلو به کله ډیره موده تیره شوه، مونږ به

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:100-

پۀ خپلو خېټو پورې کاڼي تړل، د پاسه به مو پرې کپړه مضبوطه راتاو کړله۔(1)

حضرت فُضَاله بن عبید رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جُمعه راکوله، پۀ نـمونځ کښې ځینې اَصحابِ صُفَّه د ډېرې لوږې پۀ وجه بے هوشه شو او راپرېوتل۔(2)

## پۀ یوه نمړۍ باندې موړ شوم

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل زۀ د ډېرو ورځو نه وږے ووم، د مسجدِ نبوي شریف طرف ته روان ووم، د سختې لوږې پۀ وجه راته تلل ګران وو، پۀ تللو تللو کښې راباندې سر وچورلیدو او راپرېوتم، بیا راپاڅیدم، د مسجدِ نبوي طرف ته روان شوم، بیا د لږ شان مزل کولو نه پس راباندې سر وچورلیدو، هم داسې پۀ پۀ سر چورلیدو، راپرېوتو او راپاڅیدو مسجدِ نبوي شریف ته ورسیدم، هلته مې د بے وسو د سرکار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما پۀ مخ باندې د لوږې نخښې ولیدلې نو د کور نه یـې ثرِید (یعني پۀ خوروا کښې ماته کړے شوې ډوډۍ) راوغوښتله، ما ته یـې وفرمائیل: ابو هریره! لاړ شۀ! ټول اَصحابِ صُفَّه راوبلله! ما ټول راوبلل، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټولو ته د خوړلو د پاره وفرمائیل، ما ته یـې حکم اونۀ کړو، ځکه زۀ یو طرف ته ودریدم۔ چې کله ټولو اَصحابِ صُفَّه وخوړله نو نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوښے مبارک پۀ لاس کښې راواخستو، د هغې پۀ غاړو پسې چې کوم خوراک انښتے وو، پۀ خپلو مبارکو لاسونو یـې هغه راجمع کړو، دا پۀ مشکله هم یوه نمړۍ جوړه شوه ، اوئې فرمائیل: ابو هریره! بِسمِ اللّٰه ولوله او خورۀ! فرمائي: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! اللّٰه پاک پۀ هغه یوه نمړۍ کښې دومره برکت کېښودو چې پۀ

1...مسند احمد، جلد:4، صفحہ:296، حدیث:8524۔
2...مسند احمد، جلد:9، صفحہ:706، حدیث:24662۔

هٰغه يوه نمړۍ زما لوږه ختمه شوه-(1)

سُبْحٰنَ الله!

| | |
|---|---|
| اِنَّا اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَر | ساری کثرت پاتے یہ ہیں |
| ٹھنڈا ٹھنڈا میٹھا میٹھا | پیتے ہم ہیں، پلاتے یہ ہیں |
| رَبّ ہے معطی یہ ہیں قاسم | رِزْق اس کا ہے کھلاتے یہ ہیں |

## پهٔ پئيو باندې موړ شوم

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د پئيو والا واقعه خو ډيره مشهوره ده، مونږ به ډير ځل اوريدلې هم وي، حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وږے شوے وو، د چا نه يې څهٔ غوښتل هم نهٔ-

سُبْحٰنَ الله! دا هم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم کمال دے، تر ډيرو ډيرو ورځو پورې به يې لوږه برداشت کوله خو خُود داري به يې قائِمه ساتله، چا ته به يې لاسونه نهٔ نيول او ولې به يې نيول---؟

| | |
|---|---|
| میں در در پھروں چھوڑ کر کیوں ترا دَر؟ | اُٹھائے بلا میری احسانِ عالَم |
| میں سرکارِ عالی کے قربان جاؤں | بھکاری ہیں اس دَر کے شاہانِ عالَم |

خير! حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وږے شوے وو، د چا نه يې څهٔ نهٔ غوښتل، ځکه پهٔ لار کښې پهٔ يو ځائے کښې کيناستو- لږ وخت تير شوے وو چې د مسلمانانو وړومبے خليفه عاشقِ اکبر حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ هٰغه ځائے تيريدلو، حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ور وړاندې شو او د هغوئي نه يې د قرآنِ پاک د يو آيت پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه، پهٔ زړهٔ کښې يې دا وو چې صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به پهٔ مخ باندې د لوږې نخښې ووينې نو د خوراک دعوت به راله پخپله راکړي خو هغوئي د پوښتنې جواب ورکړو

---

1...فتح الباری لابن حجر، کتاب الرقاق، باب کیف کان...الخ، جلد:11، صفحہ:349، زیرِ حدیث:6452۔

او تشریف یـې یوړو۔

لږ ساعت پس د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ هٔغه ځائے راتیریدلو، حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د هغوئي نه هم عِلمي پوښتنه وکړه، هغوئي هم جواب ورکړو او تشریف یـې یوړو۔

مُحۡتَاج سے تمہارے کرتے ہیں سب کنارہ | بس اِک تمہیں ہو یاوَر تم پر سلام ہر دَم

دواړه صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہما یقیناً چې مالداره هم وو، سخیان هم وو، مال به یـې هم تقسیمولو، ممکن ده چې دې دواړو حضراتو ته معلومه وه چې دا نن د بَل یو دَر میلمه دے۔ خیر! حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وږے وو، صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هم تیر شو، فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هم تیر شو، هغوئي چې پۀ کوم ځائے کښې وو هم هلته کیناستو، لږ وخت پس د بے وسو آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو۔

لو وہ آیا میرا حامی، میرا غمخوارِ اُمم | آگئی جاں تنِ بےجاں میں یہ آنا کیا ہے(1)

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته معلومه شوه چې ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وږے دے، اوئې فرمائیل: ابو هریره! پۀ ما پسې راځۀ! حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وریسې روان شو، پۀ تللو تللو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور مبارک ته ورسیدو، چا پۀ یو لوښي کښې پےپۀ تحفه کښې راوړي وو۔ نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ابو هریره---!! لاړ شۀ! ټول اَصحابِ صُفَّه راوبله!

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ حکم باندې د عمل کولو د پاره روان شو، پۀ زړۀ کښې یـې سوچ کولو چې یو لوښے پے دي چې دومره ډیر کسان راشي نو آیا زما د پاره به پکښې هم پاتې شي؟ پۀ دې سوچ سوچ کښې د اَصحابِ صُفَّه خوا له لاړو، د خوږ مصطفٰے

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:173۔

صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حكم يـې ورته بيان كړو، تهول يـې د ځان سره راوستل- تهول حاضر شو، پۀ يو قطار كښې كيناستل، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته لوښے وركړو او اوئې فرمائيل: پۀ تهولو يـې وڅښئ!

هغوئې لوښے ونيوو، يو يو له يـې وركول شروع كړل، 70 صحابۀ كرام رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم وو، تهول پۀ پئيو ماړه شو، پۀ لوښي كښې پې هم هٰغه شان موجود وو، تهولو څښلي وو نو خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته نظر وكړو او پۀ مُسكا يـې وفرمائيل: ابو هريره! اوس زۀ او تۀ پاتې يو- كښينه! وړومبے تۀ وڅښه- حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ پې وڅښل، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: نور وڅښه- نور يـې وڅښل، اوئې فرمائيل: نور وڅښه! نور يـې وڅښل- اخر يـې عرض وكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اوس خو پۀ خېټه كښې هډو ځائے نشته- د تهولو نه پۀ اخره كښې اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پې وڅښل او لوښے يـې خالي كړو-[(1)]

كيوں جنابِ بُو ہريره تها وه كيسا جامِ شير | جس سے سَتَّر صاحبوں كا دُودھ سے مُنه پهر گيا[(2)]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معجزه ده، د پئيو د يو لوښي نه يـې پۀ 70 بلكې پۀ 72 كسانو باندې وڅښل او د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاجزی ته وګورئ چې د 71 كسانو نه پاتې شوې پې يـې د تهولو نه پۀ اخره كښې وڅښل-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ دې واقعه باندې هم غور وكړئ چې د اَصحابِ صُفَّه حالات څۀ وو---؟ څومره څومره سختې به يـې برداشت كولې- د دومره سختو باوجود دا عالي وقار حضرات پۀ جومات كښې دې، عِلمِ دِين زده كوې،نورو ته يـې

1...بخاری، کتاب الرقاق، باب کیف کان عیش...الخ، صفحہ:1587-1588، حدیث:6452۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:53۔

ښائي ، د دِين په خدمت کښې مصروف دي-

## مونږ او زمونږه غوښتنې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس حالات ډير خراب شوي دي، خاص طور چې کله دا کرونا راغلې ده، د دې نه پس په عالمي سطح معيشت خراب شوے، ګراني تقريباً په ټوله دُنيا کښې راغلې ده، د خلقو اندازونه داسې شوي دي چې مثلاً په دوو ځايونو کښې نوکري ميلاؤيږي، په يو ځائے کښې د دِيني خدمت کارونه دي، په بل ځائے کښې د دُنيا کارونه دي- تنخوا به د دواړو ځايونو نه ميلاؤيږي، خلق د تنخوا پوښتنه کوي چې ښه تنخوا به چرته ميلاؤيږي، مثلاً په دِيني اداره کښې 30 زره تنخوا ده، په دُنيائي اِداره کښې 35 زره ده نو خلقو د دُنيا ادارو ته ترجيح ورکول شروع کړي دي-

دا ډير خطرناک حالت دے، د دِين خدمت زمونږه منصبي فريضه ده، مونږه مسلمانان يو، که مونږ د دِين خدمت نۀ کوو نو آيا غير مسلمه به راځي او کوي به يې؟ هسې خو مونږ ټولو له د دِين خدمت کول دي، ورسره تنخوا هم ميلاؤيږي، دا خو نوره هم ښه شوه- **الله** پاک چې مونږ له کوم صلاحيت راکړے دے، دا خو هم يو نعمت دے، مونږ له قرآنِ کريم صحيح لوستل راځي، نورو خلقو ته ښودل يې راځي، **الله** پاک د عِلم دولت راعطا کړے دے، دا خو هم نعمت دے، د قيامت په ورځ باندې به د دې پوښتنه هم کيږي چې ✿ تا ته قرآنِ پاک ښودلے شوے وو، تا څۀ وکړۀ؟ ✿ تا ته د عالِم کورس توفيق درکړے شوے وو، تا د دِين څومره خِدمت وکړو؟ ✿ تا ته د عِلمِ دِين نعمت درکړے شوے وو، تا څومره خلقو ته دِين ورسولو، آؤ جي! د قيامت په ورځ باندې به دا پوښتنه کيږي، د حديث شريف مطابق 5 پوښتنې به کيږي، تر څو پورې چې بنده د دې جوابونه نۀ وي ورکړي، هغۀ ته به د اوسپنې د تودې زمکې نه د قدم اوچتولو اِجازت نۀ ورکړے کيږي،

پۀ هغې کښې يوه پوښتنه دا هم ده چې تا عِلم د کوم ځائے نه حاصِل کړو او پۀ هغې دې څومره عمل وکړو۔

دا پوښتنه به کيږي، که مونږه پۀ دِيني اِداره کښې کار کوو نو دا خو مونږه د خپل اخرت پۀ تيارئ کښې مصروف يو، د دې سره سره که تنخوا هم ميلاوْيږي، اګر که 5 زره، 10 زره کمې هم وي، بيا خو دا د ډبل فائدې خبره ده، د کور خرچه پرې هم روانه ده او د دِين خِدمت هم کيږي۔

## مننه چې پۀ ما باندې مو بيان وکړو

محدثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد صاحِب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ډير لوئې عالِمِ دين تير شوے دے۔ يو ځل يے يو محفل ته د بيان د پاره تشريف يوړو، د هغه کور اوسيدونکي غريبان خلق وو، دوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغوئي کره بيان اوفرمائيلو۔ د بيان ختميدو نه پس په واپسئ پکار خو دا وي چې د کور والا څه نذرانه پيش کړي، دوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خپل ځان نه څه رقم هغوئي ته پيش کړو، د کور مالک عرض اوکړو: حضور تاسو مونږ ولې شرمِنده کوئ۔

سُبْحٰنَ الله! د الله والؤ څومره اوچت شان دے۔ دوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اے د خدائے بنده دا رقم زۀ تاسو ته د شکريه په توګه درکووم، ځکه چې تاسو ما ته د **الله** پاک او د هغۀ د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذکر کولو موقع راکړه۔[(1)]

دا د الله والؤ شان وي۔ کاش چې مونږه هم دا ذِهن جوړ کړو۔

## دُنيا يا اخرت---؟

بنه---!! ما چې دا څۀ عرض کړه، دا د هغوئي پۀ باره کښې دي کوم خلق چې څۀ نا

---

[1]...حياتِ محدث اعظم پاکستان، صفحه:184-185 ملخصاً۔

څۀ دِيني ذِهن لري، پۀ څۀ نا څۀ طريقه د دِين خِدمت کوي- که د عامو خلقو خبره وکړے شي نو هلته خو تر ډيره حده پورې ترجيح دُنيا وي- ❀ خلق د دُکان او نوکرۍ وغيره پۀ چکر کښې نـمونځونه هم قضا کوي ❀ که پۀ قافله کښې د سفر کولو دعوت ورکړې نو کارونه پـکښې مخې ته راشي ❀ پۀ دِيني اِجتماعاتو کښې د حاضرۍ د سعادت نه محرومي وي ❀ د **الله** پاک پۀ لاره کښې يوې ورځې ورکولو ته خلق تيار نۀ وي، ولې---؟ د دُنيا نقصان به مو وشي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دِين کار پۀ ګرانه کيږي، دا دُنيا ده، هم دلته به پاتې شي، بس د سترګو پټولو سره به موټرې، محلونه، بنګلې هر څۀ پاتې شي- قبر ته به درسره څۀ ځي؟ **دِين- نيک اعمال-** ځکه مونږ له پکار دي چې د لالچ نه ځان خلاص کړو، که درې څلور روپۍ کمې راځي نو څۀ وشو ❀ د دِين د خِدمت کولو د پاره ❀ د نيکو کَتلو د پاره ❀ د قرآنِ کريم د زده کولو او ښودلو د پاره ❀ د تفسير اوريدو او بيانولو د پاره ❀ پۀ مدرسـة الـمدينه بالغان کښې د لوستلو او نورو ته د سبق ښودلو د پاره ❀ د دَرس ورکولو او اوريدو د پاره ❀ پۀ قافلو کښې د سفر د پاره وخت اوباسئ! که لږه شان قرباني ورکول وي نو مهرباني وکړئ ور يـې کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پۀ برکت به مو دُنيا هم ښه شي او اخرت به مو هم ښۀ شي- **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| اِنۡ تَنۡصُرُوا اللّٰهَ يَنۡصُرۡكُمۡ<br>(پاره:26، سورۀ مُحَمَّد:7) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** که تاسو د الله د دِين مدد کوئ نو الله به ستاسو مدد کوي- |
|---|---|

که مونږ د دِين خادمان جوړ شو نو **الله** پاک به زمونږه ټول کارونه صحيح کړي-

## د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ذِکرِ خير

د **صفر شريف** مياشت ده- پۀ **20 صفر يومِ داتا حُضُور** ده- حُضُور داتا ګنج بخش علي

هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بر صغير مشهوره او معروفه هستي ده، د پاکستان خو کيدے شي چې ماشوم ماشوم د هغوئي د پاک نوم نه خبر وي- د هغوئي پۀ ژوند مبارک باندې غور وکړئ- د صاحبِ فَقر بزرګ وو يعنې هغوئي د دُنيا او د مال او د دولت نه بے نيازه وو، د دُنيا د لالچ، حرص او د هوس نه پاک، بس د رَبِّ کريم پۀ طلب کښې ژوند تيرولو والا وو- کله چې هغوئي لاهور ته تشريف راوړو نو هُغه وخت يې هم د ځان سره زيات ساز او سامان نۀ وو راوړے، بس داسې ووايې چې پۀ ظاهره هغوئي خالي لاسونه تشريف راوړو، بيا چې يې دلته تشريف راوړو نو وړومبے يې د کپړې پۀ خيمه کښې قيام وفرمائيلو، وروستو هغوئي بيا محلونه او بنګلې وغيره جوړې نۀ کړې، بس د دِين پۀ خِدمت کښې يې ټول ژوند تير کړو- هغوئي د دِين خدمت وکړو، نن څه کم يا زياتې 12 صدئ تيرې شوې دي، دَر مبارک ته يې نن هم ډير خلق راځي- که ورځ وي، که شپه وي، که ماسپښين وي، ډيره ګرمي وي يا سخته يخني وي، هر وخت يې پاک دَر د عاشقانو نه ډک وي- دا د دِين د خِدمت برکتونه دي- دوئي هر څۀ د دِين د پاره قربان کړل، **الله** پاک لوئي لوئي خلق د دوئي د دَر غلامان کړه-

# د لالچ نه پاک ژوند

داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پخپله ليکلي دي چې: يو ځل زۀ د خپل کامِل پير (شيخ ابو الحسن خُتَّلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه) سره دِمَشق ته روان ووم، پيدل سفر وو، باران شوے وو، ځکه پۀ لاره کښې خټې وې، فرمائي: ما ته پۀ تللو کښې تکليف وو خو چې کله مې د پير صاحب طرف ته وکتل نو د هغوئي جامې او پيزار وَچ وو، هغه بالکل پۀ خټو نۀ وې سخا شوې- ما پۀ حيرانتيا سره د دې د حِکمت پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائيل: **د کله نه چې ما توکل اختيار کړے دے او زړۀ مې د لالچ نه لرې کړے دے، د هُغه وخت نه الله پاک زۀ د خټو نه بچ کړے يم-** (1)

[1] ... کشف المحجوب، باب فی فرق فرقهم... الخ، الکلام فی ذکر کراماتهم، صفحه: 291۔

سُبْحٰنَ اللّٰہ! خومره ښکلے شان دے---!! معلومه شوه چې کوم بنده د زړۀ نه د دُنيا حِرص او لالچ اوباسي او صرف او صرف د **اللّٰه** پاک شي، هُم د هغۀ طرف ته توجه لري، پۀ هغۀ باندې کامِل باور کوي، **اللّٰه** پاک هغۀ د دُنيا د ګند او د دې ځائے د بدئ نه بچ کوي-

راځئ چې دُعا وکړو:

محبّت میں اپنی گُما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی!
رہوں مست و بے خود میں تیری وِلا میں | پلا جام ایسا پلا یاالٰہی! [1]

**اللّٰه** پاک دې زمونږه توفيق نصيب کړي، کاش چې د **اَصحابِ صُفَّه** فيضان زمونږ نصيب شي، مونږ هم د **اللّٰه** پاک پۀ لار کښې قرباني ورکړو، هسې خو مو دې **اللّٰه** پاک بچ ساتي خو که بيا هم پۀ دې لاره کښې سخته راشي، مصيبت راشي، پريشاني راشي، د صبر سره ثابت قدم اوسو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دُنيا او د اخرت بے شميره خيرونه به مو نصيب شي-

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صحيح اِسلامي عقيدو د زده کولو، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق باندې د زړۀ منور کولو، د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتِ اَطهار رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د محبت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:105-

اخلئ! د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه درنصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع هم ده-

**تاسو ته خواست دے** چې پهٔ هفته واره اِجتماع کښې پهٔ پابندیِ سرئ شرکت کوئ! پهٔ ديني اجتماع کښې د کيناستو او د ذِکر کوونکو خو به خپل ځومره ښکلے شان وي! د **حديثِ پاک** مطابق ځوک چې د دوئي پهٔ خوا کښې کښيني، هغهٔ هم بدبخته نه پاتې کيږي [1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پهٔ هفته واره اجتماع کښې ذِکر کيږي ❁ عِلم دِين زده کيږي ❁ پهٔ نيک صحبت کښې کيناستل او ❁ پهٔ جومات کښې وخت تيرول نصيب کيږي ❁ يو اهم برکت دا چې د ديني اجتماع د پاره تلل هم د **الله** پاک پهٔ لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره اجتماع ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې به ټول وخت د **الله** پاک پهٔ لار کښې شميرلے کيږي ❁ د هر زيارت پهٔ ورځ پهٔ پابندیِ سره پهٔ **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو پوخ نيت وکړئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## پهٔ اِجتماع کښې د شرکت کولو مزه

د يو اِسلامي ورور د خط خلاصه ده چې زما تعلق د بد مذهبې کورنیِ سره وو- د دعوتِ اِسلامي سره د تړون سعادت مې څهٔ داسې نصيب شو چې يو ځل د دعوتِ اِسلامي والا د يو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره مې ملاقات وشو- هغهٔ ما ته پهٔ هفته واره د سُنَّتو اِجتماع کښې د شرکت کولو دعوت راکړو کوم چې ما پهٔ نهٔ زړهٔ قبول کړو- چې کله ما پهٔ اِجتماع کښې شرکت وکړو نو هلته د سوز نه ډکو او ژړيدونکو دعاګانو زما پهٔ زړهٔ کښې انقلاب راوستو، د کومې پهٔ وجه چې زما د زړهٔ سکون نصيب شو- بس بيا خو پهٔ

---

[1] ... مسلم، کتاب الذکر و الدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حديث:2689۔

اجتماع کښې شرکت کول زما معمول جوړ شو- کور والؤ ته مې چې معلومه شوه نو هغوئي زما په لاره کښې خنډان [يعني رکاوټونه] جوړول شروع کړل- د **الله** پاک په راعطا کړے شوي توفيق به زۀ په څۀ نا څۀ طريقه اجتماع ته تلم- بيا زما د نيکو کولو جذبه ورځ په ورځ زياتيدله- زما په اخلاقو کښې بهتري شروع شوه، کور والؤ چې کله زما په اخلاقو او کردار کښې پيدا شوے بدلون وليدو نو په ورو ورو هغوئي هم نرمي شروع کړه- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اجتماع په برکت سره د ښو عقيدو د اختيارولو، په سر باندې د عمامې تاج په سر کولو او د سُنَّت مطابق د ګيرې پريښودو سعادت مې نصيب شو-

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا ديا ديني ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا ديني ماحول |
| سلامت رہے ياخدا ديني ماحول | بچے بد نظر سے سدا ديني ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ”فتاوٰی رضويه“ موبائل ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے ايپلي کيشن په نوم د: **فتاوىٰ رضويه ( Fatawa Razwia)** جاري کړے دے- ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د فتاوٰی رضويه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل کړے شوے دے-❁ د فتاوٰی رضويه د ټولو رسالو (کومې چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سوالونو په جوابونو کښې ليکلې وې د هغو) جدا فهرست هم موجود دے- ❁ په ايپلي کيشن کښې يو ډير ښۀ فيچر د **Advanced Search** دے، د کوم په ذريعه چې خپله مطلوبه خبره په ډيرې آسانۍ سره سرچ کولے شئ، په کوم خاص جلد يا خاصه رساله کښې هم د سرچ کولو سهولت موجود دے- ❁ جلد منتخب کولو سره په هغې کښې مطلوبه صفحې (**Page**) ته

تللے شئ- ۞ د الفاظو Font Size هم په خپله خوښه ایډجسټ کولے شئ- ۞ په ایپلي کیشن کښې خپله د خوښې خبره د Notes په فیچر کښې لیکلو سره سره محفوظولے او په Favorites لسټ کښې شاملولے او Share کولے هم کیدے شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چینل باندې لائیو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پۀ مَدَني چینل نهه نیمې بجې (9:30PM) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د سجدې فضائل رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئې دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (*Share*) کړي! ❁ د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ قلم لیکلے شوې، د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عشق او محبت، پۀ عِلم او تقویٰ مشتملې د ژوند مبارک د ذِکر دوه رسالې (1): تذکره امام احمد رضا (2): بریلي سے مدینه- مکتبة المدینه د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے- دا دواړه رسالې د مکتبة المدینه د یوې ښانګې نه پۀ 15/15 روپی پۀ بیعه واخلئ یا یې

د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ

## د شعبۀ حج او عمره اعلان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! هغه عاشقانِ رسول کوم چې د ګورنمنټ اسکيم حج پاليسي 2026 پاکستان لاندې حج ته د تلو اراده لري او د دعوتِ اسلامي د شعبۀ حج او عمره په حج ګروپس کښې شامليدو سره دا مقدس فريضه سر ته رسول غواړي، هغوئي دې د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net په ذريعه خپل د حج معاونت فارم online جمع کړي- د نورو معلوماتو د پاره د اجتماع نه پس د شعبۀ حج او عمره په بستو باندې موجودو اسلامي ورونړو سره يا په دې نمبرو رابطه اوکړئ! 03700032626 - 03705065072

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## 1500 کلن جشنِ ولادت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ربيعُ الاوّل شريف د ډيرو عظمتونو، فضيلتونو او سعادتونو والا مياشت ده- په دې مياشت کښې زمونږه آقا او مولا، د رحمتونو والا، د عظمتونو والا، د اوچتو شانونو والا آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دنيا ته تشريف راوړے وو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول يو يو ماشوم د دې مياشتې سره مينه کوي- او داسې به ولې نه وي چې..؟

ربیعِ پاک تجھ پر اہلسنّت کیوں نہ قرباں ہوں | کہ تیری بارھویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا (1)

دا ځل خو ربيع الاوّل شريف نور هم خاص دے چې دا ځل د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 1500 کلن جشنِ ولادت راروان دے-

---

1...قبالۂ بخشش، صفحہ:55۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| سرکار کی آمد! مرحبا مرحبا! یا مصطفٰے! | دلدار کی آمد! مرحبا! مرحبا! یا مصطفٰے! | مکّی کی آمد! مرحبا! مرحبا! یا مصطفٰے! | مَدَنی کی آمد! مرحبا مرحبا! یا مصطفٰے! |

تېول عاشقانِ رسول د **1500 کلن جشنِ ولادت** ډیرې ډیرې تیارۍ اوکړئ ۞ په خپلو علاقو کښې ښې رڼاګانې اوکړئ ۞ په هر کور ۞ بلډنګ او ۞ په ګاډي باندې د مدني جنډو لګولو کوشش اوکړئ! ۞ د سحر د سپرلي (صبحِ بهاران) او جلوسِ میلاد د پاره د اوس نه د اسلامي ورونړو ذهن سازي اوکړئ- که **الله** پاک ته منظوره وه نو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان به دا کال **1500 کلن جشنِ ولادت** په ډیر جوش او جذبې سره مناوهي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

دھوم ہے عطّار ہر سو شاہ کے میلاد کی
جھوم کر تم بھی پُکارو! مرحبا یا مصطفٰے!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عاجزي کول سُنَّت دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامین مبارک دي: (1)**: څوک چې د الله

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

پاک د پاره عاجزي کوي، الله پاک هغهٔ ته اوچت والے عطا کوي- [1] (2): افضل عبادت عاجزي ده- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! عاجزي کول سُنَّتِ مصطفٰےصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیره اوچته مرتبه لري، د الله پاک نه پس د ټولو نه اوچته مرتبه هم د هغوئي ده، د دې سره سره د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عاجزئ شان هم ځانګړے وو، الله پاک رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اختیار ورکړو چې که غواړي نو د بادشاهانو پهٔ شان ژوند تیر کړئ او که غواړي نو د بندګئ والا، د غریبئ ژوند اختیار کړي، نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بندګي او فقیري اختیار کړه ❀ د خادمانو سره به کیناستو او خوراک به یې کولو ❀ د غلامانو دعوت به یې قبلولو ❀ د مسکینانو تپوس پوښتنه به یې کوله ❀ د فقیرانو سره به کیناستو ❀ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم سره به یو ځائے اوسیدو ❀ خپل کار به یې پهٔ خپلو لاسونو مبارکو باندې کولو ❀ که صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم به ور وړاندې کیدل او خدمت کول به یې غوښتل نو فرمائیل به یې: دا رښتیا دي چې تاسو به زما ټول کارونه وکړئ خو **زما دا خوښه نهٔ ده چې ستاسو ترمینځه پهٔ څهٔ اِمتیازي شان سره اووسیږم-** [3]

کبھی جَو کی موٹی روٹی تو کبھی کھجور پانی | ترا ایسا سادہ کھانا مدنی مدینے والے
ہے چٹائی کا بچھونا کبھی خاک ہی پہ سونا | کبھی ہاتھ کا سرہانا مدنی مدینے والے
تِری سادگی پہ لاکھوں تِری عاجزی پہ لاکھوں | ہوں سلام عاجزانہ مدنی مدینے والے

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر

1...جَامِع صَغِير، صفحه:522، حديث:8605۔

2...شُعَبُ الْاِيْمَان، فصل:فی التواضع، جلد:6، صفحه:278، حديث:8148۔

3...سيرت مصطفٰى، صفحه:609606۔

16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (1) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[2] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:669۔

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

1 ...القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

2 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

فرمائيلي دي: د دې د لوستونڪي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريڪه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريڪه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵